**بسم الله الرحمن الرحيم**

# په افغانستان کې د سیاسي جګړې لوبه؛ له ښځو او ماشومانو سره لوی جنایت!

(ژباړه)



امریکا په ټوله نړۍ کې خپل شعار د سولې راوستل او له تروریزم سره مبارزه ګرځولي دی او داسې په ځیرکۍ یې د تروریزم معنی پټه کړې ده، چې هېڅوک یې پر وړاندې خوله نه شي خلاصولی او له دې کلمې نه کوم تعبیر نه شي درلودلی؛ ځکه امریکا د نړۍ د زبرځواک په توګه دا کلمه تفسیر کړې او د تروریزم پر وړاندې جګړه یې د اسلام او اسلامي امت د سړیو، ښځو او ماشومانو پر وړاندې جګړه تفسیر او تعبیر کړې ده. امریکا په ټوله نړۍ کې داسې حالت راوستی، چې نړۍ باید د تروریزم دا تفیسر ومني او هر څوک چې له دې مسئلې سره مخالف شي، خپله تروریست او د سولې او دیموکراسۍ پر ضد دی.

د قدرت دلاسته راوړلو او په نړۍ کې پر زبرځواک بدلېدلو لپاره؛ امریکا له دویمې نړیوالې جکړې ورسته د اسلام ایډیالوژي په خپله لاره کې تر ټولو لوی خنډ ولید. په همدې سبب د اسلام او مسلمانانو د ورکولو په ځیرکانه طرحې پسې را ووتل. دې مکارې کیدړې د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر د ۱۱مې پېښې ورسته افغانستان ته د داخلېدو تر

ټولو ښه پلمه پیدا کړه. په افغانستان کې د دې استعماري جګړې لاسته راوړنه د ښځو او معصومو ماشومانو په ګډون د زرګونو بې ګناه خلکو وژل او د زرګونو نورو بې کوره کېدل دي. لکه څرنګه چې د یونما خبر په ډاګه کوي، چې د ۲۰۱۷م کال په ٦ لومړیو میاشتو کې له ١٦٦٢ زیات ملکي وګړي وژل شوي او ٣۵٨١ تنه نور ټپیان شوي دي. په دې وخت کې د ښځو تلفات په سلو کې۳۳ زیات شوي، چې ١٧۴ ښځې وژل شوې او ۴٦٢ نورې زخمي شوې دي. په دغه وخت کې ۴٣٦ ماشومان مړه ١١۴١ ماشومان ټپي شوي دي. همدارنګه د ماشومانو تلفات د ۲۰١٦م کال په لومړیو ٦ میاشتو کې ۹ سلنه زیات شوی دي.

د نیشن جاردکشنر څېړنې په ډاګه کوي، چې د ولسمشر ټرامپ زوم د بلک واټر (د هر اړخیزو خدمتونو پوځ) بنسټ اېښودونکی او د نیویارک یو لوی پانګوال او د خورا لویې قراردادي کمپنۍ DynCorp International د امتیاز خاوند او ناظر سټیپن فاینبرګ پلان لري، چې د افغانستان جګړه په شخصي نظامي واحدونو وویشي.

د افغانستان ښځې او ماشومان نور څومره باید د امریکا جنایتونه وزغمي. ایا د امریکا د سولې لپاره د افغانستان د خلکو دا ټولې قربانۍ بس نه دي؟ امریکا غواړي خلک د تروریزم  له منګولو خلاص کړي، خو کوم خلک؛ ایا مسلمانان په دې خلکو کې نه راځي؟ دا خلک د اسلامي امت ښځې او ماشومان  دي، چې وینه یې په ناحقه تویې شوې، کور او کورنۍ یې له منځه تللي، په عزت او ناموس یې تېری شوی او کېږي.

پوه شئ او درک کړئ، چې اسلامي امت هېڅکله له امریکا ازادي نه غواړي. هغه څه چې رهبران یې د خلکو د غوښتنو په توګه بیانوي، هېڅکله د خلکو غوښتنه نه ده؛ بلکې خپله غوښتنه یې ده او هغه غوښتنې او حقیقتونه، چې خلک یې غواړي، پټوي یې. لکه څنګه چې د اسلامي امت ښځې او ماشومان په افغانستان کې د لوی تروریست  او ترهګر یعنې جنایتکارې امریکا له منګولو د ازادۍ غوښتونکي دي. په نړۍ کې دا ټولې جګړې او وژنې د هغې له ډلې په افغانستان کې د سیاسي جګړې حاصل دی، چې امریکا خپلو شومو موخو ته د رسېدو لپاره پیل کړې او د جګړې په دغه ډګر کې یې د بې عدالتۍ او بربریت د پای ته رسولو لپاره هېڅ رقیب نشته.

امریکا تر اوسه له پنځو میلیونو ډېر مسلمانان په افغانستان، عراق، سوریه، سوډان، سومالیا، کشمیر او نورو مملکتونو کې وژلي او تر ١٠ میلیونو زیات یې ټپیان کړي دي. سربېره پر دې د رنګا رنګ اتومي بمونو په ازمویلو سره د امت راتلونکي نسل ته زیان رسوي او د له منځه وړلو په لټه کې یې دي.

نو باید مسلمانان په ټوله نړۍ کې د اسلامي امت د دې ټولو وژنو پر وړاندې ځان مسؤول وګڼي، یو موټی شي او یو ځای تر هغې چې جنایتکاران، قاتلین او د امت پر وینه، مال او ناموس تېري کوونکي د مجازاتو په دار را ونه ځړول شي، ارام کښېنني. امت باید د نړیوالو قضایي سازمانونو فریب ونه خوري او له دغو سازمانونو عدالت ونه

غواړي؛ ځکه دا ټول د خلکو د غولولو لپاره دي او په حقیقت کې همدغه سازمانونه جنایتکارانو لکه امریکا جوړ کړي او ملاتړي یې دي. اسلامي امت باید پر اسلام او اسلامي عدالت منګولې ولګوي او د عدالت د ټینګښت لپاره یواځې او یواځې اسلام حل لاره وبولي او دا کار هغه وخت حقیقت پیداکوي، چې یو ځل بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره خلافت تاسیس شي. بیا به نو کوم ظلم او جنایت، چې د اسلامي امت پر ښځو او ماشومانو کېږي، پای ته ورسېږي او د اسلامي امت کوم هویت چې د نړۍ رهبري یې پر غاړه وه، بېرته ورته را ګرځول کېږي.

﴿**كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ**﴾ (ال عمران: ۱۱۰)

**ژباړه:** *تاسې هغه غوره امت یاست، چې د انسانانو د ګټې لپاره پیدا شوی یئ. تاسې پر نېکۍ امر کوئ او له بدۍ منعه او پر الله سبحانه وتعالی ایمان لرئ. که اهل کتابو ایمان راوړی وای، د دوی پر ګټه و، که څه هم په هغوی کې د ایمان خاوندان شته؛ خو زیاتره یې فاسقان دي.*

**لیکواله: امانه عابد**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالقعدې ۲مه**

**۲۰۱۷م، د جولای ۲۵ مه**